# دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

## دکرنې، اوبولګولو اومالدارۍ وزارت

### د کرنې او خوړو خوندیتوب بیړنۍ پروژه(EATS)

# د چاپیریال ساتنې اوټولنیزمدیریت کاري چوکاټ

اکتوبر ۲۰۲۰

## د پروژې د کړنو لنډيز:

د کرنې او خوړو خونديتوب بيړنۍ پروژه(EATS) د کرونا يا (Covid 19) د ناروغې له امله د خلکو په عايد کې د رامنځته شوي کمښت له ډېريدو څخه مخنيوی او د خوړو خونديتوب ته له لاندني لارو کار کوي.

i. د خوراکي توکو په ځانګړي توګه د غنمو سيمه ايزو توليدونکو ته وده ورکول.

ii. د خوړو د توليد او خونديتوب په پار د اوبو لګولو د مؤثرو بنسټونو رغول، د اوږدې مودې لپاره د اوبو د شتون په خاطر د آبريزې مديريت او ددې کړنو له لارې د لنډې مودې کاری فرصتونو رامنځته کول.

## د پروژې موخې:

د کرونا ناروغې له امله د رامنځته شوي بحران د اغيزې د کمولو لپاره د اړينو خوراکي موادو د رسولو له ځنځير يا Supply Chain څخه ملاتړ او د لنډې مودې اقتصادي فرصتونو رامنځته کول.

## د پروژې مهمې برخې:

نوموړې پروژه به د خوراکي توکو د تولید د ډیریدو لپاره د کرنې سکتور ته وده ورکړي او د پروژې د ښه پلي کیدو لپاره د افغانستان د شته حکومتي اداري په ځانګړې توګه د کرنې وزارت له لارې پلي کیږي او ددې وزارت ظرفیت به لوړ کړي.

| | د پروژې مهمې برخې | بودجه په میلیون دالر | پلي کوونکی | د کرونا بحران ته ځواب |
|---|---|---|---|---|
| A | د تولیدي کرنې د اوبو لګولو د سیستمونو بیارغونه(۶۵/۷ میلیون امریکایي ډالر) | | | |
| A.1 | د اوبو لګولو د شبکو بیارغونه | ۳۸/۶ | -پراختیایي شوراګانې<br>-د اوبو لګولو ټولنې/ میرآب | -د اوبو د شتون ډیربنت<br>-د کرنیزو توکو تولید<br>-کارموندنه |
| A.2 | -د آبریزو مدیریت<br>-د للمي/شاړو ځمکو کرنه | ۲۷/۱ | -د طبیعي زیرمو عمومي ریاست<br>-پراختیایي شورا ګانې | |
| B | د اړینو خوراکي توکو د رسولو د ځنځیر Supply Chain مدیریت(۲۶/۴ میلیون امریکایي ډالر) | | | |
| B.1 | -د اصلاح شوي تخمونو تولید، رسونه او بیرنۍ ویش | ۱۶/۴ | د افغانستان د تخمونو د کمپنیو ملی اتحادیه (ANSCU) | -د تخمونو او نورو مهمو توکو پر وخت تولید او کافی شتون<br>-د خوراکي توکو رسول او ددې توکو په ارزانه بیه ساتلو کې مرسته |
| B.2 | -د خوراکي توکو له پروسس او ویش څخه ملاتړ | ۱۰ | NPMU/RPMUs | |
| C | د پروژې مدیریت(۷/۹ میلیون امریکایي ډالر) | | | |
| C.1 | د پروژې د مدیریت برخې | ۷/۹ | د پروژې د مدیریت ملي او سیمه ایز واحدونه | د غوره مدیریت پلي کول او قبلول |
| C.2 | څارنه، ارزونه، زده کړه او راپور ورکول | | | د پروژې د شاخصونو څارنه او راپور ورکول |
| C.3 | - د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ<br>- د بیا میشت کیدنې کاري چوکاټ<br>-د مرضونو او آفاتو هر اړخیز مدیریت<br>-د کارګرو د مدیریت پلان<br>-د برخه لرونکو د مدیریت پلان<br>- د ګیلو د حل میکانیزم | | | د S&E اغیزه او د خطر مدیریت |
| C.4 | د پروژې د مدیریت مشوره ورکونکې اداری | | | د پروژې له رهبرۍ ځانګې ملاتړ |
| C.5 | د نورو ریاستونو سره همکاري | | | د پروژې لپاره د آسانتیاوو برابرول |
| D | ناڅاپه او بیړنۍ حالاتو ته رسیدنه (۰ میلیون امریکایي ډالر) | | | |

## د پروژې د مهمو برخو چاپیریالي او ټولنیزې اغیزې:

د کرنې او خوړو خوندیتوب پروژې ټولې کړنې مثبت او ګټور ارزول شوي دي.

د اوبولګولو د شبکو رغول، د آبریزو مدیریت او د شاړو ځمکو کرنه هغه کړنې دي چې بزګرو ته د کرنیزو توکو د تولید کچه لوړوي.

لکه څنګه چې کرنه یو اړین، د اقتصاد له نظره مهم او د کرونا ناروغۍ د بحران په له منځه وړلو کې خورا ډیر مقاوم فعالیت دئ او همدارنګه د اساسي توکو په کتار کې د کاري فرصت په رامنځته کولو کې د لوړ ظرفیت درلودونکی دئ نو ددې پروژې د پلې کیدو ناوړې اغیزې به لږ، ځایي او د کمې مودې لپاره وي او حتی امکان لري چې د ځینو تدابیرو د نیولو په صورت کې یې مخنیوئ هم وشي.

تر ډیره د پروژې ناوړه چاپیریالي اغیزې به په ودانیزو چارو پورې اړوند وي چې د کمولو او یا حتی مخنیوئ وړ دي او ځینې یې په لاندې ډول دي:

i. په کاري چاپیریال کې د دوړو یا خاورو، شور یا غږ او اضافي موادو جوړیدنه.
ii. د پیپونو د لیکي او یا د موټرو د تګ را تګ له کبله د اوبو ککړتیا.
iii. د ډیرو اوبو د استعمال له امله د خټو جوړیدل.
iv. د کار له خلاصیدو وروسته د غیر معیاري او غیر مسلکي ترمیم له امله د خاورو ښویدنه.
v. د هغو کارکوونکو روغتیا ته چې د مضره کیماوي توکو سره کار کوي نه پاملرنه

همدارنګه د نوموړې پروژې پلي کول به ناوړه ټولنیزې اغیزې چې تمه کیږي لږ او لنډ مهاله وي ولري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

i. د خلکو هغه ملکیتونه چې د کار ساحې ته نږدې وي او پروژې ته د لاس رسۍ مانع ګرځي امکان لري د پروژې پلې کیدل پرې ناوړه اغیزه وکړي.
ii. د کاریګرو هجوم په هغو ساحو کې چې کارګران له نورو ساحو څخه راوستل شوي وي.
iii. جنسي تاوتریخوالې، کم عمر کارګران او د جبري کار موضوع.
iv. پروژې ته د شخصي، عامه او یا د ټولنو پورې تړلې ځمکې ورکړه چې باید له قانوني لارو وشي او اسناد یې ترتیب شي.

## د چاپیریال ساتنې او ټولنیزمدیریت کاري چوکاټ(ESMF) موخې:

د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ(ESMF) موخه د پروژې په کړنو کې د ناوړه چاپیریالي او ټولنیزې اغیزې کمول او پدې هکله، په آسانه پریکړه کول دي چې په لاندې ډول شرح کیږي:

i. د چاپیریال ساتنې د پالیسي او په مجموع کې د کرنې او خوړو خوندیتوب بیړنۍ پروژې (EATS) او په ځانګړې توګه د هرې فرعي پروژې قانوني کاري چوکاټ پیژندنه.

ii. د کرنې او خوړوخوندیتوب بیړنۍ پروژې (EATS) په کاري چوکاټ کې د یوې روښانه او واضح چاپیریال ساتنې او ټولنیز کړنلارې او رهنما را منځته کول.

iii. د پروژې د پلې کیدو نه وروسته د مثبت یا منفي چاپیریالي او ټولنیزو اغیزو ارزونه او د منفي یا ناوړه اغیزو را کمول.

iv. د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ(ESMF) د هرې فرعي پروژې لپاره د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د پلان(ESMP) په جوړولو کې مرسته کوي.

## د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ(ESMF) ته اړتیا:

د پروژې د ارزونې پر مهال د ودانیزو چارو او نورو کړنو کره موقعیت او تفصیل معلوم نه وي نو پدې توګه د پروژې په پلان جوړونه، ډیزاین، پلې کول او ګټه اخیستنه کې یو کاري چوکاټ چې ټول چاپیریالي او ټولنیز موضوعات پکې نغښتي وي او ټولې ټولنیزې او چاپیریالی ستونزو ته ځواب ویونکی وي، په پام کې نیول کیږي.

د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ(ESMF) په ځانګړې توګه د ناوړو ټولنیزو او چاپیریالي اغیزو د له منځه وړلو او یا کمولو په پار د موجوده ملي قوانینو او د نړیوال بانک د چاپیریال ساتنې او ټولنیزو ستندردونو په رڼا کې جوړ شویدئ چې د کرنې او خوړوخوندیتوب بیړنۍ پروژې (EATS) په کړنو کې پلې کیږي او د پروژې پلې کوونکو ته د ناوړو چاپیریالي او ټولنیزو اغیزو په پیژندلو او د هغو د له منځه وړلو لپاره د اړینو اقداماتو د کولو لارښوونه کوي.

د کرنې او خوړوخوندیتوب بیړنۍ پروژې (EATS) د هرې شبکې په بیا رغونه او نورو فعالیتونو کې د کړنو موقعیت، هغه ځمکې چې اغیزمنې شوي، بایو فزیکي ځانګړتیاوې او نور معلومات د چاپیریالي او ټولنیز مدیریت په پلان(ESMP) کې چې هرې فرعي پروژې لپاره، به جوړیږي په نظر کې نیول کیږي.

په مجموع کې به د کرنې او خوړوخوندیتوب بیړنۍ پروژه (EATS) اوهرهغه فعالیتونه چې ددې پروژې لخوا یې بسپنه کیږي د نړیوال بانک د چاپیریال ساتنې او ټولنیز کاري چوکاټ (ESF) چې ټول لس د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت ستندردونه (ESS) ( پرته لهESS-7 او ESS-9 نه) پکې شامل دي، پلې کیږي.

## د قانون او پالیسي مطابق نظارتي چاپیریال:

د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت هغه قوانین او مقررات چې د کرنې او خوړوخوندیتوب(EATS) د پروژې په فعالیتونو کې په نظر کې نیول کیږي عبارت دي له:

- د افغانستان د چاپیریال ساتنې قانون ۲۰۰۷
- د EIA مقررات
- د ځمکو پورې اړوندو مسائلو د مدیریت قانون ۲۰۰۸
- د ځمکې د غصب قانون ۲۰۰۹
- د آفت وژونکو قانون ۲۰۱۲
- د اوبو قانون ۲۰۱۹
- د اوبو د سکتور ستراتیژي ۲۰۱۰

سربیره په پورتنی مقننه اسنادو، د نړیوال بانک د ارزونې پر بنسټ لاندنۍ د چاپیریال ساتنې او ټولنیزمدیریت ستندردونه هم د پروژې پورې اړوند دي.

د نړیوال بانک د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت ستندردونه (ESS)

| معیارونه | هو | نه |
|---|---|---|
| ESS1: د چاپیریالي او ټولنیزو خطرونو ارزونه او مدیریت | X | |
| ESS2: د کار او کارګرو شرایط | X | |
| ESS3: د سرچینو مؤثریت او د ککړتیا مدیریت او مخنیوئ | X | |
| ESS4: د ټولنې روغتیا او خوندیتوب | X | |
| ESS5: د ځمکې استملاک، د ځمکې د کارولو محدودیتونه او غیر اختیاري بیا میشت کیدل | X | |
| ESS6: د طبیعي سرچینو د ژوند دوامداره مدیریت او د ژوو د تنوع ساتنه | X | |
| ESS7: اصلي خلک/ د افریقایی خلکو تر منځ توکمي توپیر | | X |
| ESS8: کلتوري میراث | X | |
| ESS9: مالي منځګړیتوبونه | | X |
| ESS10: د برخه لرونکو نظراخیستنه او د معلوماتو شریکول | X | |

## د بیا میشت کیدنې کاري چوکاټ(RF):

د بیا میشت کیدنې کاري چوکاټ(RF) د افغانستان د ځمکې د استملاک قانون او د نړیوال بانک د ESS-5 په رڼا کې جوړشوې تر څو د کرنې او خوړوخوندیتوب بیړنۍ پروژې(EATS) ته د پروژې په پلې کیدو کې د منل شوي ټولنیزو مسائلو او د پروژې په هره کړنه کې د ټولنې د نغښتیا په هکله لارښوونه وکړي.

د کرنې او خوړوخوندیتوب بیړنۍ پروژه(EATS) به د خپلو کړنو ټولنیزې اغیزې ارزوي او د بیا میشت کیدنې کاري چوکاټ(RF) مطابق به د بیا میشت کیدنې عملیاتي پلان(RAPs) جوړوي.

## اداري تنظيم:

د کرنې او خوړوخونديتوب د بیړنۍ پروژې(EATS) د رهبري ځانګه به د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اوبو لګونې د رياست په چوکاټ کې مسئوليت لري تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې ټولې کړنې به د چاپيريال ساتنې او ټولنيز مديريت کاري چوکاټ(ESMF) سره مطابقت لري.

د پروژې په ساحوي دفترونو کې نوې ګمارل شوي د چاپيريالي او ټولنيز مديريت افسران به د پروژو په سکرينګ، د چاپيريالي او ټولنيز مديريت د پلان(ESMP) او د بيا ميشت کيدنې عملياتي پلان(RAPs) جوړول، ددې پلانونو سم پلې کول، ارزونه او راپور ورکولو کې مسئوليت لري.

د پروژې هغه کار کوونکو ته چې د پروژې د پلې کولو مسئوليت لري بايد د چاپيريال ساتنې او ټولنيز مديريت کاري چوکاټ(ESMF) په هکله ظرفيت جوړونه وشي ترڅو پدې هکله د دوی له پوهې او مهارت نه ډاډ تر لاسه شي.

د پروژې په لومړي پړاو او د پروژې په اوږدو کې به متخصص مشاورين د مربوطه کارمندانو د ظرفيت لوړولو لپاره وګمارل شي چې ګټه اخيستونکي به يې د کرنې او خوړوخونديتوب بيړنۍ پروژه(EATS) او نورې اړوندې ادارې وي.

د چاپيريال ساتنې او ټولنيز مديريت کاري چوکاټ(ESMF) د يوې برخې په توګه د يو مفصل ظرفيت جوړونې پلان چې په هغه کې د کرنې او خوړوخونديتوب بيړنۍ پروژه(EATS) او همدارنګه د هغو نورو ادارو چې په چاپيريالي او ټولنيز مديريت کې مسئوليت لري د کارکوونکو په ظرفيت لوړولو باندې تمرکز شوی وي، جوړ شويدئ.

د چاپيريال او ټولنيز مديريت واحدونه به د پروژې له پيل نه تر پايه پورې د ټولنې د خلکو له برخه اخيستنه، مشوره ورکونه او داسې نورو ټولنيزو کړنو څخه ملاتړ کوي.

## د ګيلو د حل ميکانيزم(GRM):

د غوره رهبنت او حساب ورکونې په پار به د په کرونده کې د اوبو د تنظيم د پروژې(OFWMP) چې د کرنې وزارت يوه بشپړه شوی پروژه ده، پورې اړوند د ګيلو ميکانيزم به د کرنې او خوړوخونديتوب بيړنۍ پروژه(EATS) د کړنو په اړه د ګيلو د اخيستو لپاره پياوړی او ګټه ترې پورته شي.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د پروژې پورې اړوند د ګيلو د حل د ميکانيزم لپاره مناسب او په شرايطو برابر ځانګړی لارښود جوړ کړی دئ.

د پروژې د کړنو په هکله د ګيلو د راجستر او پروسس کولو په خاطر به په هره فرعي پروژه کې د ګيلو د حل سيمه ايزه کميټه جوړيږي چې مشري به يې په ساحوي دفترونو کې ګمارل شوي د چاپيريالي او ټولنيز مديريت افسران کوي.

د ټولنې هغه خلک چې فکر کوي د پروژې فعاليتونه پر دوی ناوړه اغيزه کړئ کولای شي چې خپل شکايت د ګيلو د حل سيمه ايزې کميټې ته چې په هره فرعي پروژه کې جوړې شويدي، وسپاري.

## نظارت او ارزونه:

په ساحوي دفترونو کې ګمارل شوي د چاپیریالي او ټولنیز مدیریت افسران به د سیمه ایزو حکومتي چارواکو او عاموخلکو سره په همغږۍ، په چاپیریالي او ټولنیز مدیریت پلان(ESMP) کې د ذکر شوو لازمو اقداماتو د سم او قناعت بښونکی تطبیق نظارت کوي.

هر هغه دریمه اداره چې د ځانګړو اغیزو او خطرونو د مدیریت او کمولو لپاره د لازمو اقداماتو د تطبیق مسئولیت لري د کرنې وزارت به ورسره په تطبیق او ارزونه کې هر اړخیزه مرسته کوي.

هردری میاشتی به یو راپور د پروژې رهبري ځانګې ته لیږل کیږي.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت او نړیوال بانک په همغږۍ به د یوې خپلواکې ادارې لخوا کلنۍ چاپیریالي، ټولنیز او تخنیکي پلټنه کیږي.

## عامه مشوره او د معلوماتو شریکول:

د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ(ESMF) او د چاپیریالي او ټولنیزمدیریت پلان(ESMP) د جوړولو په وخت کې به د پروژې اړوندې ساحې له نږدې لیدل کیږي او د اړوندو برخه لرونکو سره به ناستې کیږي.

د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ، د بیا میشت کیدنې کاري چوکاټ، او دچاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري پلان به مخکې له بشپړیدو نه د مسودې په شکل په یوه عامه مشورتي غونډه کې چې په هغه کې د پروژې اړونده برخه لرونکې لکه اغیزمن شوي خلک، پراختیایي شوراګانې،د اراضي اداره، د چاپیریال ساتنې ملي اداره، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د اوبو ملي اداره، د کرنې ریاستونه، بزګران، د اصلاح شوو تخمونو ټولنه، د ټولنې مشران، د اوبولګولو ټولنې او داسې نور شامل او سیمه ایزو دفترونو کې به دایریږي، وړاندې شي او د هر ګډونوال نظر به اخیستل کیږي او ددوی د نظر د ځای پر ځای کولو نه وروسته به دغه سند بشپړیږي او د کرنې وزارت او نړیوال بانک په ویبسایټونو کې به خپریږي سر بیره پردې به په دې غونډه کې د پروژې موخه، د پروژې کړنې، اټکل شوي ناوړه چاپیریالي او ټولنیزې اغیزې او د هغه د له منځه وړلو لپاره لازم اقدامات او د ګیلو د حل میکانیزم هم ګډونوالو ته تشریح کیږي.

د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ(ESMF) به د پروژې په پیل کې په دوو ملي ژبو(پښتو او دري) ژباړل کیدو نه وروسته د پروژې کار کوونکو او پراختیایي شورا ګانو ته ورکول کیږي.